# مطبوعاتي اعلاميه

**د باجوا عمران رژیم د خلافت په ملاتړ کوونکو رحم نه کوي او برمته کولو ته يې دوام ورکوي، خو د هغو کسانو په هکله اندېښنه څرګندوي کوي چې د سعودي په زندانونو کې دي!**

**(ژباړه)**



د پاکستان ولسمشر عمران خان، د سعودي له وليعهد سره په وروستۍ ليدنه کې، په سعودي کې د زرګونو پاکستاني زندانيانو څخه يادونه وکړه، چې په پايله کې يې د سعودي وليعهد د ۲۱۰۰ تنو له خوشې کولو ډاډ ورکړ. چې د دغو زندانيانو لومړۍ ډله د ۲۰۱۹ د فبرورۍ په ۲۱ مه پاکستان ته ورسېده. عمران خان په دې کار سره خلکو ته داسې وښوده، چې د پاکستان د خلکو په فکر دی، په ځانګړې توګه هغه خلک چې له هېواده يې بهر دي.

عمران خان وويل: «پاکستاني کار کوونکي د خپلو کورنيو د ملاتړ لپاره په سعودي کې کار کوي. دا ډول خلک زما زړه ته ډېر نږدې دي چې له هغوی څخه ۳۰۰۰ تنه د کوچنيو جرمونو له امله په بند کې دي». په حقيقت کې دا هم د رژیم دوه مخيتوب دی چې له لومړۍ ورځې يې مکاري ښکاره وه. عمران خان غواړي له يوې خوا په لويو نمايشونو سره په سعودي کې له پاکستاني زندانيانو اندېښنه ښکاره کړي او له بلې خوا، د بجوا-عمران رژیم د سلګونو تنو احساسات منحرف کړي او د رژیم پر وړاندې د هغوی کلک زړونه نرم کړي، پرته له دې چې د خپلې کورنۍ غړو له حالت او ځای څخه يې خبر کړي او په محکمه کې په راغوښتلو سره د هغوی درد او رنځ څو برابره کوي. رژیم د خلافت د ملاتړ کوونکو پر وړاندې په داسې بې رحمۍ سره عمل کوي چې لاتر اوسه يې لادرک کړي. انجنير نويد بټ، د حزب التحرير ولايه پاکستان غړی، کابو اووه کاله مخکې د ۲۰۱۲ م د مې په ۱۱مه ، له لاهور څخه برمته شو او همداسې انجنير محمد جنيد اقبال او سيد نبيل اختر د ۲۰۱۵ د سپتمبر په ۱۵ مه له کراچۍ څخه برمته شول.

د عمران له خبرو سره سم هغه پاکستانيان چې په سعودي کې په بند کې دي ازاد شول، ځکه ډېر کوچني جرمونه يې تر سره کړي وو. د هغو مخلصو مسلمانانو په هکله پوښتنه کوو چې د خلافت ملاتړي دي او بې جرمه دي او ولې يې لا احوال او ځای هم نه دی معلوم؟ ايا د خلافت د ملاتړ کوونکو، له بند څخه ازادي اړينه نه ده؟ د هغوی خو له دې پرته چې ويل يې (له خلافت څخه ملاتړ کوو). بل جرم نه وو. په حقيقت کې د پاکستان اوسنی رژیم هم د پخوانيو ديموکراتيکو نظامونو په څېر، له اسلام سره په جګړه کې له امريکا سره په مرسته کولو سره، غواړي د يوه لوی ځواک په څېر د خلافت دولت له رامنځته کېدو مخنيوی وکړي. خو بيا هم دغه رژیم د رښتنولۍ په څېره خپل مخ پټوي(!). چې هرو مرو به يې له مخ لرې شي او ډېر ژر

به د پاکستان مسلمانانو لاس په خپل ګرېوان کې ووینې. دغه رژیم یوازې دومره کولی شي چې له دغو ظلمونو څخه په ډېره کولو سره ځان د رسول الله ددغه حدیث پر متې له ژمنه شوو عذابونو څخه وژغورې:

**«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُمْلِي لِلظَّالِمِ فَإِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ»**

(رواه ترمذي، بخاري او مسلم)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی د ظالم رسی اوږدوي او کله چې الله سبحانه وتعالی دا رسی ونیوله، نو بیا یې نه پرېږدي.*

**د حزب التحرير ولايه ـ پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰ د جمادي الثاني ۱۷ مه**

**۲۰۱۹ د فبروری ۲۲مه**

**د صدور ګڼه: ۳۳/۱۴۴۰**